# هود

**مکی سورة دی ۱۲۳ آیتونه لری**

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

الٓر ۚ كِتَٰبٌ أُحۡكِمَتۡ ءَايَٰتُهُۥ ثُمَّ فُصِّلَتۡ مِن لَّدُنۡ حَكِيمٍ خَبِيرٍ ١

**الف - لام - را( په حقیقی معنی یې الله تعالی او رسول صلی الله علیه وسلم ښه پوهیږی).**
**دا( قرآن کریم هغه عظیم الشأن او جلیل القدر) کتاب دی چې ټول آیتونه یې( له لفظی او معنوی حیثیت له مخی) داسې ثابت او مستحکم دی( چې هیڅ نقصان او خلل پکې لاره نه مومی. نه پکې کوم تناقض شته او نه یې کوم مضمون د حکمت او واقعیت سره په ټکر کې دی) او بیا د پوه او با حکمته ذات( الله تعالی) له لوری په تفصیل سره بیان شوی دی.**

أَلَّا تَعۡبُدُوٓاْ إِلَّا ٱللَّهَۚ إِنَّنِي لَكُم مِّنۡهُ نَذِيرٞ وَبَشِيرٞ ٢

**( او د نازلولو، لوی مقصد یې دا دی چې تاسو باید یوازې د واحد او لاشریک ذات الله تعالی عبادت ته وقف او متوجه شی او) له الله تعالی نه غیر، د بل هیچا عبادت او پرستش و نه کړئ.( ای پیغمبره خلکو ته ووایه) چې زه ( کافرانو او منکرینو ته د الهی عذاب ) خبرداری ورکوونکی او( مؤمنانو او حق پالونکو ته د جنت) زیری ورکوونکی یم.**

وَأَنِ ٱسۡتَغۡفِرُواْ رَبَّكُمۡ ثُمَّ تُوبُوٓاْ إِلَيۡهِ يُمَتِّعۡكُم مَّتَٰعًا حَسَنًا إِلَىٰٓ أَجَلٖ مُّسَمّٗى
وَيُؤۡتِ كُلَّ ذِي فَضۡلٖ فَضۡلَهُۥۖ وَإِن تَوَلَّوۡاْ فَإِنِّيٓ أَخَافُ عَلَيۡكُمۡ عَذَابَ يَوۡمٖ
كَبِيرٍ ٣

**او( پس له توحیده درته امر کوم) چې له خپل رب نه( د خپلو تیرو ګناهونو) ښښنه وغواړئ او په پوره اخلاص او اطاعت سره د هغه لور ته وروګرځئ نو هغه به هم درته د ژوند تر پایه هوسایی او نیکمرغی در په برخه کړی او هم به ښو صفاتو لرونکو او نیک عمله کسانو ته ډیر زیات اجر ورکړی، خو که له حق نه مخ وګرځوئ نو( د شفقت او زړه سوی له مخې) ویریږم چې د لویې ورځې له عذاب سره به مخ شئ.**

إِلَى ٱللَّهِ مَرۡجِعُكُمۡۖ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٌ ٤

**ستاسو د ټولو د ( ورتګ) وروستئ مرجع د الله تعالی حضور دی چې په ټولو چارو کامل قدرت او تسلط لری.**

أَلَآ إِنَّهُمۡ يَثۡنُونَ صُدُورَهُمۡ لِيَسۡتَخۡفُواْ مِنۡهُۚ أَلَا حِينَ يَسۡتَغۡشُونَ ثِيَابَهُمۡ
يَعۡلَمُ مَا يُسِرُّونَ وَمَا يُعۡلِنُونَۚ إِنَّهُۥ عَلِيمُۢ بِذَاتِ ٱلصُّدُورِ ٥

**واورئ چې مشرکان خپل سرونه په ګريوانو ننباسی، ترڅو( د اسلام او پیغمبر سره خپله دښمنی ) په خپلو سینو کې پټه وساتی او له الله تعالی نه هم پټ شی، خو بیا واورئ (چې الله تعالی يې په همدغه حالت کې هم وینی) چې دوی پخپلو کالیو کې ځانونه رانغاړی ځکه الله تعالی د دوی په پټو او ښکاره اعمالو ډیر ښه پوه او د زړونو په پټو رازونو هم ښه خبر دی.**

۞ وَمَا مِن دَآبَّةٖ فِي ٱلۡأَرۡضِ إِلَّا عَلَى ٱللَّهِ رِزۡقُهَا وَيَعۡلَمُ مُسۡتَقَرَّهَا
وَمُسۡتَوۡدَعَهَاۚ كُلّٞ فِي كِتَٰبٖ مُّبِينٖ ٦

**او د ځمکې د هر خوځنده( ذی روح) روزی د الله تعالی په ذمه ده او هماغه ذات يې کور او ګور ډیر ښه پیژنی، ټول په یوه روښانه کتاب کې ثبت دی.**

وَهُوَ ٱلَّذِي خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ فِي سِتَّةِ أَيَّامٖ وَكَانَ
عَرۡشُهُۥ عَلَى ٱلۡمَآءِ لِيَبۡلُوَكُمۡ أَيُّكُمۡ أَحۡسَنُ عَمَلٗاۗ وَلَئِن
قُلۡتَ إِنَّكُم مَّبۡعُوثُونَ مِنۢ بَعۡدِ ٱلۡمَوۡتِ لَيَقُولَنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ
إِنۡ هَٰذَآ إِلَّا سِحۡرٞ مُّبِينٞ ٧

**الله تعالی هغه ذات دی چې آسمانونه او ځمکه يې په شپږو ورځو( مرحلو) کې پیدا کړل، په داسې حال کی چې عرش( د سلطنت تخت) يې د اوبو په سطحه ولاړ و( یعنی د مخلوقاتو د ژوند اساسی ماده اوبه ده چې الله تعالی د ټولو کایناتو نه مخکې پیدا کړی او د هغه د کامل قدرت، تسلط او قیمومیت لاندې ده او آسمانونه او ځمکه او ما فیها يې ټول ستاسو د ښیګڼې او فایدې لپاره پیدا کړل) تر څو تاسو وازمایی چې کوم یو د نیکو او غوره اعمالو څښتن دی، او( ای پیغمبره که خلکو ته) ووایې چې تاسو به له مرګ نه وروسته بیا راژوندی کیږئ، نو کافران به ووایی چې دا( قرآن) د سحر او کوډو نه غیر بل څه نه دی.**

وَلَئِنْ أَخَّرْنَا عَنْهُمُ ٱلْعَذَابَ إِلَىٰٓ أُمَّةٍ مَّعْدُودَةٍ لَّيَقُولُنَّ مَا يَحْبِسُهُۥٓ ۗ
أَلَا يَوْمَ يَأْتِيهِمْ لَيْسَ مَصْرُوفًا عَنْهُمْ وَحَاقَ بِهِم مَّا كَانُوا۟ بِهِۦ
يَسْتَهْزِءُونَ ﴿٨﴾

او که له هغوی نه د یوې لنډې مودې لپاره عذاب وځنډوو نو( په ملنډو) به ووایی چې د عذاب د ځنډ وجه څه ده؟ باید واورئ په کومه ورځ چې عذاب ورته راشی هیڅوک یې ترې ځنډولی نشی بلکه هماغه(عذاب) به ترې راچاپیره شی چې ملنډې یې پرې وهلې.

وَلَئِنْ أَذَقْنَا ٱلْإِنسَـٰنَ مِنَّا رَحْمَةً ثُمَّ نَزَعْنَـٰهَا مِنْهُ إِنَّهُۥ لَيَـُٔوسٌ
كَفُورٌ ﴿٩﴾

او که زمونږ له خوا( کافر یا ناشکره) انسان ته کوم رحمت( لکه صحت او سلامتی، شتمنی، اولاد او امنیت ور په برخه وی او بیا ترې( د کوم حکیمانه علت له مخې ) واخستل شی نو( د الله تعالی له رحمت نه) سخت ناامیده او مایوسه( او په تیرو نعمتونو) ډیر زیات ناشکره شی.

وَلَئِنْ أَذَقْنَـٰهُ نَعْمَآءَ بَعْدَ ضَرَّآءَ مَسَّتْهُ لَيَقُولَنَّ ذَهَبَ
ٱلسَّيِّـَٔاتُ عَنِّىٓ ۚ إِنَّهُۥ لَفَرِحٌ فَخُورٌ ﴿١٠﴾

او که له ضرر او مصیبت نه وروسته وربانډې د خوښی او هوسایئ پراخې خپې راشی نو وایی د ستونزو او سختیو دوران تیر شو( او نور به د بدبختئ مخ و نه ګورو) او ډیر زیات خوشحاله او متکبر فخر کوونکی وی( او د راتلونکو حوادثو هیڅ غم ورسره نه وی) .

إِلَّا ٱلَّذِينَ صَبَرُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّـٰلِحَـٰتِ أُو۟لَـٰٓئِكَ لَهُم مَّغْفِرَةٌ وَأَجْرٌ
كَبِيرٌ ﴿١١﴾

خو هغه کسان (چې په مصیبتونو او غمونو کې) د صبر او زغم لرونکی او( په راحت او هوسایئ کې شکر کوونکی او) نیک عمله دی، دوی د ستر بخشش او لوی اجر او انعام مستحق دی.

فَلَعَلَّكَ تَارِكُۢ بَعۡضَ مَا يُوحَىٰٓ إِلَيۡكَ وَضَآئِقُۢ بِهِۦ صَدۡرُكَ أَن يَقُولُواْ
لَوۡلَآ أُنزِلَ عَلَيۡهِ كَنزٌ أَوۡ جَآءَ مَعَهُۥ مَلَكٌۚ إِنَّمَآ أَنتَ نَذِيرٌۚ وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ
شَيۡءٖ وَكِيلٌ ﴿١٢﴾

**(د دین دښمنان) وایی: ولې په دې پیغمبر باندې کومه خزانه، نه ده رانازله شوې( چې د عیش او عشرت ژوند وربانديې وکړی) او ولې ورسره پرښته نه ده راغلې( چې د نبوت تصدیق او ګواهی یې وکړی.ای پیغمبره!) ګوره چې ته د دوی د دغه ډول خبرو له امله زمونږ د وحې کومه برخه پرې نه ږدې او نه دې سینه( زمونږ د آیتونو او احکامو د ابلاغ او اظهار لپاره) تنګه شی.ځکه ته یوازې( خلکو ته د جحیم له اوره) اخطار ورکوونکی یې( نه د چا د اعمالو ذمه وار.) او الله تعالی په ټولو چارو ښه څارونکی دی( نو د مخالفینو له عناد نه مه ویرېږه او په نامعقولو غوښتنو یې هم مه خفه کېږه.)**

أَمۡ يَقُولُونَ ٱفۡتَرَىٰهُۖ قُلۡ فَأۡتُواْ بِعَشۡرِ سُوَرٖ مِّثۡلِهِۦ مُفۡتَرَيَٰتٖ وَٱدۡعُواْ
مَنِ ٱسۡتَطَعۡتُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ﴿١٣﴾

**(د ټول قرآن په مقابل کې ودرېږی) او وایی: محمد دغه قرآن له ځانه جوړ کړی، ورته ووایه که رښتیا وایاست تاسو هم د دې کتاب په شان لس سورتونه له ځانه جوړ کړئ او د هغو د جوړولو لپاره له الله تعالی نه غیر، له هر چا مرسته هم غوښتلی شئ.**

فَإِلَّمۡ يَسۡتَجِيبُواْ لَكُمۡ فَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّمَآ أُنزِلَ بِعِلۡمِ ٱللَّهِ وَأَن لَّآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۖ
فَهَلۡ أَنتُم مُّسۡلِمُونَ ﴿١٤﴾

**خو که څوک ( د قرآنی آیتونو د جوړولو لپاره) ستاسو مرستې ته حاضر نه شول ( او بیشکه چې حاضریدی نشی ) نو بیا پوه شئ چې دا قرآن( انسانی کلام نه دی بلکه) د الله تعالی په علم نازل شوی، هغه ذات چې په مقابل کی یې هیڅ خدای نشته، نو آیا حق( اسلام ) ته غاړه ایښودونکی یاست؟( یعنې باید ایمان راوړئ).**

مَن كَانَ يُرِيدُ ٱلۡحَيَوٰةَ ٱلدُّنۡيَا وَزِينَتَهَا نُوَفِّ إِلَيۡهِمۡ أَعۡمَٰلَهُمۡ فِيهَا وَهُمۡ
فِيهَا لَا يُبۡخَسُونَ ﴿١٥﴾

**څوک چې د دنیا ژوند او د هغه ښکلا او ځلا غواړي، د هلو ځلو او کوښښونو ثمره به یې په پوره توګه ورته په دې دنیا کې ورکړو او هیڅ کمی کاستی به پکې نه وی.**

أُوْلَـٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ لَيۡسَ لَهُمۡ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ إِلَّا ٱلنَّارُۖ وَحَبِطَ مَا صَنَعُواْ
فِيهَا وَبَٰطِلٞ مَّا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ١٦

**خو دا کسان به په آخرت کې د اور نه غیر د بل هیڅ شی مستحق نه وی ،د دنیا ټول(خیریه) کارونه به یې( په ریا او تظاهر کې شمار) او باطل اعلان شی.**

أَفَمَن كَانَ عَلَىٰ بَيِّنَةٖ مِّن رَّبِّهِۦ وَيَتۡلُوهُ شَاهِدٞ مِّنۡهُ وَمِن قَبۡلِهِۦ كِتَٰبُ
مُوسَىٰٓ إِمَامٗا وَرَحۡمَةًۚ أُوْلَـٰٓئِكَ يُؤۡمِنُونَ بِهِۦۚ وَمَن يَكۡفُرۡ بِهِۦ مِنَ
ٱلۡأَحۡزَابِ فَٱلنَّارُ مَوۡعِدُهُۥۚ فَلَا تَكُ فِي مِرۡيَةٖ مِّنۡهُۚ إِنَّهُ ٱلۡحَقُّ مِن رَّبِّكَ
وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يُؤۡمِنُونَ ١٧

**( نو آیا دغه منکرین او کافرین غوره دی) او که هغه( پیغمبر) غوره دی چې د خپل رب له لوری په روښانه دلیل ( توحید او اسلام) روان او متکی دی؟ د الله تعالی له لوری شاهد( قرآن ) هم ورسره دی. او له دې وړاندې د موسی کتاب چې اهل کتاب ورباندې ایمان لری ، او لارښود او رحمت و( هم د دې پیغمبر د بعثت وړاندوینه او ګواهی ورکوی؟ ).او کومې انسانی ډرګنې( په هر ملت او مذهب پورې چې تړلی وی) که په دې آخرزمان پیغمبر ایمان رانه وړی، سزا یې جهنم دی. او( ای انسانه ) په دې حقله هیڅ شک او تردید مه کوه چې دا قرآن په حقه ستا د رب له لوری نازل شوی خو ډیر خلک پرې( د تکبر او عناد له مخې) ایمان نه راوړی.**

وَمَنۡ أَظۡلَمُ مِمَّنِ ٱفۡتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ كَذِبًاۚ أُوْلَـٰٓئِكَ يُعۡرَضُونَ عَلَىٰ
رَبِّهِمۡ وَيَقُولُ ٱلۡأَشۡهَٰدُ هَـٰٓؤُلَآءِ ٱلَّذِينَ كَذَبُواْ عَلَىٰ رَبِّهِمۡۚ أَلَا
لَعۡنَةُ ٱللَّهِ عَلَى ٱلظَّـٰلِمِينَ ١٨

او له هغه نه بل لوی ظالم څوک دی چې په الله تعالی باندې د دروغو تومت تړی؟ دوی چې کله د الله تعالی حضور ته احضار کړی شی نو شاهدان به ووایی: دا هغه کسان دی چې پخپل رب یې دروغ تړلی وو. واورئ چې په ظالمانو د الله لعنت مسلط دی.

ٱلَّذِينَ يَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ وَيَبۡغُونَهَا عِوَجٗا وَهُم بِٱلۡأٓخِرَةِ هُمۡ كَٰفِرُونَ ١٩

په هغو ظالمانو چې د الله تعالی له لارې خلک منع کوی او( د هدایت مستقیمه لار) ورته کږه او انحرافی معرفی کوی، او د آخرت (له راتګ او حساب کتاب) نه هم منکر دی.

أُوْلَٰٓئِكَ لَمۡ يَكُونُواْ مُعۡجِزِينَ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَمَا كَانَ لَهُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ مِنۡ أَوۡلِيَآءَۘ يُضَٰعَفُ لَهُمُ ٱلۡعَذَابُۚ مَا كَانُواْ يَسۡتَطِيعُونَ ٱلسَّمۡعَ وَمَا كَانُواْ يُبۡصِرُونَ ٢٠

دوی په( دې پراخه) ځمکه کې( د الله تعالی د قدرت او سلطې له حدودو وتلی نشی) او د الله تعالی په مقابل کې،( د عذاب نه د نجات لپاره) بل هیڅ سرپرست او مرستندوی هم نشی موندلی.( د قیامت په ورځ به یې د ګناهونو د زیاتوالی له امله) د عذاب سزا هم دوه چنده وی ځکه دوی حق اوریدلو ته تیار نه وو( او د بصیرت سترګې یې ړندې وی).

أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ خَسِرُوٓاْ أَنفُسَهُمۡ وَضَلَّ عَنۡهُم مَّا كَانُواْ يَفۡتَرُونَ ٢١

دا کسان به له سخت زیان او تاوان سره مخامخ او ټول هغه باطل خدایان به ترې تالا ترغی وی چې په دروغو او ناحقه به یې له الله تعالی سره په ربوبیت کې شریکول.

لَا جَرَمَ أَنَّهُمۡ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ هُمُ ٱلۡأَخۡسَرُونَ ٢٢

ثابت او مسلم حقیقت دی چې دوی به په آخرت کې د زیانیدلو او تاوانی شویو په حیث ولاړ وی.

إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّٰلِحَٰتِ وَأَخْبَتُوٓا۟ إِلَىٰ رَبِّهِمْ أُو۟لَٰٓئِكَ
أَصْحَٰبُ ٱلْجَنَّةِ ۖ هُمْ فِيهَا خَٰلِدُونَ ﴿٢٣﴾

او نیک عمله مؤمنان به چې زړونه یې د الله تعالی په ذات ډاډمن او مطمئن دی، د جنت مستحق او ابدی اوسیدونکی وی.

۞ مَثَلُ ٱلْفَرِيقَيْنِ كَٱلْأَعْمَىٰ وَٱلْأَصَمِّ وَٱلْبَصِيرِ وَٱلسَّمِيعِ ۚ
هَلْ يَسْتَوِيَانِ مَثَلًا ۚ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ ﴿٢٤﴾

د دې دواړو ډلو( مشرکانو او مؤمنانو) مثال د ړندو- کڼو او لیدونکو- اوریدونکو دی، آیا دا دواړه ډلې سره یو شان دی؟( هیڅکله نه) نو آیا پند او عبرت نه اخلی؟

وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا نُوحًا إِلَىٰ قَوْمِهِۦٓ إِنِّى لَكُمْ نَذِيرٌ مُّبِينٌ ﴿٢٥﴾

بیشکه چې مونږ نوح د پیغمبر په حیث د هغه قوم ته واستاوه چې ورته یې وویل: زه تاسو ته (د الله تعالی له عذابه) اخطار درکوونکی یم.

أَن لَّا تَعْبُدُوٓا۟ إِلَّا ٱللَّهَ ۖ إِنِّىٓ أَخَافُ عَلَيْكُمْ عَذَابَ يَوْمٍ أَلِيمٍ ﴿٢٦﴾

(او درته نصیحت کوم چې) د الله تعالی نه غیر، د بل چا عبادت ونه کړی، که نه ویریږم چې د دردناکې ورځې په عذاب به اخته شی.

فَقَالَ ٱلْمَلَأُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ مِن قَوْمِهِۦ مَا نَرَىٰكَ إِلَّا بَشَرًا مِّثْلَنَا وَمَا
نَرَىٰكَ ٱتَّبَعَكَ إِلَّا ٱلَّذِينَ هُمْ أَرَاذِلُنَا بَادِىَ ٱلرَّأْىِ وَمَا نَرَىٰ
لَكُمْ عَلَيْنَا مِن فَضْلٍۭ بَلْ نَظُنُّكُمْ كَٰذِبِينَ ﴿٢٧﴾

د هغه د قوم کافرو اشرافو او سردارانو وویل: ته زمونږ په شان یو بشر یې او په پیروانو کې دې هم د څو ناپوهو او بې عقلو کسانو نه زیات، نور څوک نه لیدل کیږی، او په مونږ باندې کوم خاص فضیلت او برتری هم نه لرې بلکه فکر کوو چې دروغجن یې.

قَالَ يَٰقَوۡمِ أَرَءَيۡتُمۡ إِن كُنتُ عَلَىٰ بَيِّنَةٖ مِّن رَّبِّي وَءَاتَىٰنِي رَحۡمَةٗ مِّنۡ عِندِهِۦ
فَعُمِّيَتۡ عَلَيۡكُمۡ أَنُلۡزِمُكُمُوهَا وَأَنتُمۡ لَهَا كَٰرِهُونَ ٢٨

نوح ووېل: ای زما قومه! دا راته ووایی که زه د خپل رب له لوری په روښانه دلیل متکی یم او په ما یې داسې رحمت لورولی وی چې تاسو یې نه وینی؟ نو آیا زه د خپل نبوت روښانه دلیل چې تاسو یې نه منی، په زور او جبر درباندې ومنم؟

وَيَٰقَوۡمِ لَآ أَسۡـَٔلُكُمۡ عَلَيۡهِ مَالًاۖ إِنۡ أَجۡرِيَ إِلَّا عَلَى ٱللَّهِۚ وَمَآ أَنَا۠
بِطَارِدِ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْۚ إِنَّهُم مُّلَٰقُواْ رَبِّهِمۡ وَلَٰكِنِّيٓ أَرَىٰكُمۡ قَوۡمٗا
تَجۡهَلُونَ ٢٩

او ای قومه! زه( د خپل رسالت د ابلاغ په مقابل کې) ستاسو نه کوم مال دولت نه غواړم. زما اجر د الله تعالی نه غیر د هیچا په ذمه نه دی، او زه (ستاسو د خوښی لپاره) مؤمنان هم له ځانه رټلی نشم ځکه هغوی له الله تعالی سره ملاقات کوونکی( او د خپل رب دربار ته مقرب کسان دی) خو زه وینم چې تاسو خپل ځانونه قصداً په جهالت او ناپوهۍ کې اچولی دی.

وَيَٰقَوۡمِ مَن يَنصُرُنِي مِنَ ٱللَّهِ إِن طَرَدتُّهُمۡۚ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ ٣٠

او ای قومه! که زه (مؤمنان) ورټم نو د الله تعالی له (مجازات) نه به مې څوک وژغوری، تاسو ولې په خبره نه پوهیږۍ؟

وَلَآ أَقُولُ لَكُمۡ عِندِي خَزَآئِنُ ٱللَّهِ وَلَآ أَعۡلَمُ ٱلۡغَيۡبَ وَلَآ أَقُولُ إِنِّي
مَلَكٞ وَلَآ أَقُولُ لِلَّذِينَ تَزۡدَرِيٓ أَعۡيُنُكُمۡ لَن يُؤۡتِيَهُمُ ٱللَّهُ خَيۡرًاۖ ٱللَّهُ
أَعۡلَمُ بِمَا فِيٓ أَنفُسِهِمۡۖ إِنِّيٓ إِذٗا لَّمِنَ ٱلظَّٰلِمِينَ ٣١

او تاسو ته نه وایم چې له ما سره د الله تعالی خزانې دی( او په تاسو به یې وشیندم) او د غیبو د پوهیدو دعوه هم نه کوم او داهم نه وایم چې زه پرښته یم او دا هم نه وایم چې( دغه بې وسه مؤمنان) چې ستاسو په سترګو کې خوار او ذلیل دی، الله تعالی به ورسره ښیګڼه و نه کړی، بلکه الله تعالی د هغوی د زړونو په( اخلاص) ښه خبر دی( او که الله تعالی خپل ځینې بندګان د نبوت او حکمت مقام ته رسولی نو ځینې نور یې د

علم او عرفان په نعمت هم  نازولی، او که زه د هغوی په باب کومه ناوړه  خبره وکړم ) په ظالمانو کې به وشمیرل شم.

قَالُواْ يَٰنُوحُ قَدۡ جَٰدَلۡتَنَا فَأَكۡثَرۡتَ جِدَٰلَنَا فَأۡتِنَا بِمَا تَعِدُنَآ إِن كُنتَ مِنَ ٱلصَّٰدِقِينَ ﴿٣٢﴾

( نوح علیه السلام له توفان نه وړاندې نهه سوه پنځوس کاله خپل قوم ته وعظونه نصیحتونه وکړل او په پټه او ښکاره، شپه ورځ یې هغوی ته د تبلیغ، تفهیم، بحث او مناظرې سلسله جاری وساتله، خو هیڅ کومه ګټوره اغیزه یې ورباندې و نه کړه او بالاخره یې په یوه غږ او اتفاق ورته) وویل: ای نوحه زمونږ سره دې پوره ناندرئ او جنجالونه وکړل او تل راسره دغه ډول جنجالونه کوې خو( زمونږ وروستئ خبره داده چې) که پخپله ادعا کې رښتینی یې نو هغه عذاب دې په مونږ رانازل کړه چې ته یې مونږ ته وعدې راکوې.

قَالَ إِنَّمَا يَأۡتِيكُم بِهِ ٱللَّهُ إِن شَآءَ وَمَآ أَنتُم بِمُعۡجِزِينَ ﴿٣٣﴾

هغه وویل: د عذاب اختیار له الله تعالی سره دی که وغواړی په تاسو یې نازلولی شی او تاسو یې مخه نشئ نیولی (او نه یې د قدرت او سلطنت له ساحې نه تښتیدلی شئ).

وَلَا يَنفَعُكُمۡ نُصۡحِيٓ إِنۡ أَرَدتُّ أَنۡ أَنصَحَ لَكُمۡ إِن كَانَ ٱللَّهُ يُرِيدُ أَن يُغۡوِيَكُمۡۚ هُوَ رَبُّكُمۡ وَإِلَيۡهِ تُرۡجَعُونَ ﴿٣٤﴾

 او که الله تعالی وغواړی چې تاسو( د ګناهونو د ارتکاب په جرم) ګمراه کړی،نو زما نصیحتونه او د خیرخواهی احساس تاسوته کومه ګټه نه رسوی. هغه ستاسو رب دی او تاسو بی له شکه د هغه حضور ته احضاریدونکی یاست.

أَمۡ يَقُولُونَ ٱفۡتَرَىٰهُۖ قُلۡ إِنِ ٱفۡتَرَيۡتُهُۥ فَعَلَيَّ إِجۡرَامِي وَأَنَا۠ بَرِيٓءٞ مِّمَّا تُجۡرِمُونَ ﴿٣٥﴾

آیا مشرکان وایی چې( محمد) دا قرآن له خپله ځانه په درواغو جوړ کړی( او بیا یې ورباندې د الهی کتاب نوم ایښی ؟) ورته ووایه که ما په دروغو جوړ کړی وی نو ذمه واری یې زما پخپله غاړه ده او زه ستاسو له ګناهونو او جرایمو څخه کاملاً بیزاره یم.

وَأُوحِيَ إِلَىٰ نُوحٍ أَنَّهُۥ لَن يُؤْمِنَ مِن قَوْمِكَ إِلَّا مَن قَدْ ءَامَنَ فَلَا
تَبْتَئِسْ بِمَا كَانُوا۟ يَفْعَلُونَ ﴿٣٦﴾

او نوح ته مو وحي وکړه چې ستا د قوم له همدې شمير کسانو څخه چې تر اوسه يې ايمان راوړی، نور کسان ايمان نه راوړی نو په اعمالو ( او عناد او تکذيب) يې مه خواشينی کيږه( بلکه د الله تعالی حکم او فرمان ته سترګې په لار اوسه).

وَٱصْنَعِ ٱلْفُلْكَ بِأَعْيُنِنَا وَوَحْيِنَا وَلَا تُخَٰطِبْنِى فِى ٱلَّذِينَ ظَلَمُوٓا۟ ۚ إِنَّهُم
مُّغْرَقُونَ ﴿٣٧﴾

او( دا لارښوونه مو هم ورته وکړه) چې زمونږ تر څارنې(او لارښوونو) لاندې يوه کښتی جوړه کړه او( د خپل زوی او ميرمن او نورو)ظالمانو په باب به له ما نه هيڅ غوښتنه نه کوې، ځکه د هغوی په باب فيصله شوې چې( په توفان به) تباه کيږی.

وَيَصْنَعُ ٱلْفُلْكَ وَكُلَّمَا مَرَّ عَلَيْهِ مَلَأٌ مِّن قَوْمِهِۦ سَخِرُوا۟ مِنْهُ ۚ قَالَ
إِن تَسْخَرُوا۟ مِنَّا فَإِنَّا نَسْخَرُ مِنكُمْ كَمَا تَسْخَرُونَ ﴿٣٨﴾

او نوح د کښتئ په جوړولو بوخت و، چې د قوم د اشرافو او سردارانو هره ډله به پرې تيريده( پوښتنه به يې ترې کوله چې دا څه شی جوړوې. نوح به ورته ويل يو کور جوړوم چې د اوبو په سر به ګرځی او مونږ به له ډوبيدو نه ساتی). نو هغوی به په خنداګانو او مسخرو سر شول( چې دا سپين ږيری په دئ وچه لوړه ځمکه، له اوبو نه د نجات په فکر کې دی) . ده به ورته ويل( نن) که په مونږ ملنډې وهئ، (د توفان په ورځ به) مونږ هم په تاسو همداسې مسخرې او خنداګانې وکړو.( د مسخرو وړ خو تاسو ياست چې مرګ مو په سر ولاړ دی او تاسو ورته خاندئ).

فَسَوْفَ تَعْلَمُونَ مَن يَأْتِيهِ عَذَابٌ يُخْزِيهِ وَيَحِلُّ عَلَيْهِ عَذَابٌ
مُّقِيمٌ ﴿٣٩﴾

( زيات ځنډ به نه وی) زر به پوه شئ چې( د دنيا) سپکوونکی عذاب او(د آخرت) تل پاتې عذاب د چا په برخه دی؟

حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءَ أَمۡرُنَا وَفَارَ ٱلتَّنُّورُ قُلۡنَا ٱحۡمِلۡ فِيهَا مِن كُلّٖ زَوۡجَيۡنِ
ٱثۡنَيۡنِ وَأَهۡلَكَ إِلَّا مَن سَبَقَ عَلَيۡهِ ٱلۡقَوۡلُ وَمَنۡ ءَامَنَۚ وَمَآ ءَامَنَ مَعَهُۥٓ
إِلَّا قَلِيلٞ ﴿٤٠﴾

**(نوح په پوره حوصله او ثبات د کشتۍ په جوړولو بوخت و او قوم يې ورباندې همداسې ملنډې وهلې) تر هغه چې( يوه ورځ) زمونږ فرمان صادر شو( له آسمان نه باران او) له ځمکې نه د اوبو چينې راووتې. نوح ته مو امر وکړ چې د هر ډول ژوو نه يوه يوه جوړه( ښځه او نر) او خپله کورنۍ او مؤمنان په کښتۍ کې سپاره کړه خو هغه څوک پکې د سپريدو حق نه لری چې پخوا ورباندې د غرقيدو حکم صادر شويدی، او له هغه سره د ملګرو مؤمنانو شمير ډير لږ و.**

۞ وَقَالَ ٱرۡكَبُواْ فِيهَا بِسۡمِ ٱللَّهِ مَجۡرٜىٰهَا وَمُرۡسَىٰهَآۚ إِنَّ رَبِّي لَغَفُورٞ
رَّحِيمٞ ﴿٤١﴾

**او نوح وويل: د الله تعالی په ذکر سره، په کښتۍ کې سپاره شئ( او هيڅ انديښنه مه کوئ) روانيدل او ساحل ته رسيدل يې د الله تعالی په مرسته دی(هغه ذات چې د خپلو مؤمنو مساپرو ګناهونه معافوی او ورباندې رحم کوی) بيشکه چې زما رب ډير زيات ببنونکی او مهربان دی.**

وَهِيَ تَجۡرِي بِهِمۡ فِي مَوۡجٖ كَٱلۡجِبَالِ وَنَادَىٰ نُوحٌ ٱبۡنَهُۥ وَكَانَ فِي
مَعۡزِلٖ يَٰبُنَيَّ ٱرۡكَب مَّعَنَا وَلَا تَكُن مَّعَ ٱلۡكَٰفِرِينَ ﴿٤٢﴾

**( د اضطراب او دهشت په دغو سختو شيبو کې چې له مساپرو ډکې) کښتۍ، د غرونو ته ورته توپانی څپو سينه څيروله او مخ په وړاندې روانه وه، نوح خپل زوی ته چې( له کښتۍ نه ليرې) په يوه غاړه ولاړ و،( له شفقت نه ډکې وروستۍ) نارې ووهلې: ای زما زويه کښتۍ ته راخيژه او له کافرانو سره مه پاتې کيږه( چې غرقيږې).**

قَالَ سَـَٔاوِيٓ إِلَىٰ جَبَلٖ يَعۡصِمُنِي مِنَ ٱلۡمَآءِۚ قَالَ لَا عَاصِمَ ٱلۡيَوۡمَ مِنۡ أَمۡرِ ٱللَّهِ إِلَّا مَن رَّحِمَۚ وَحَالَ بَيۡنَهُمَا ٱلۡمَوۡجُ فَكَانَ مِنَ ٱلۡمُغۡرَقِينَ ﴿٤٣﴾

زوی یې( د جهالت او عناد په مستی کې) وویل: غر خو شته، پناه به ورووړم چې ما، له اوبو وساتی. نوح ورته وویل: نن د الله تعالی له عذابه د خلاصون لپاره، د هغه له رحم نه غیر،بله هیڅ وسیله نشته. او په همدې ترڅ کې د اوبو یوه لویه څپه د پلار او زوی ترمنځ ( د ابد لپاره) حایل شوه، او زوی یې د سیلاب د څپې په قهری کومی ورننوت.

وَقِيلَ يَـٰٓأَرۡضُ ٱبۡلَعِي مَآءَكِ وَيَٰسَمَآءُ أَقۡلِعِي وَغِيضَ ٱلۡمَآءُ وَقُضِيَ ٱلۡأَمۡرُ وَٱسۡتَوَتۡ عَلَى ٱلۡجُودِيِّۖ وَقِيلَ بُعۡدٗا لِّلۡقَوۡمِ ٱلظَّـٰلِمِينَ ﴿٤٤﴾

او (د کافرانو له هلاکت نه وروسته) الهی حکم وشو: ای ځمکې خپلې اوبه جذب کړه او ای آسمانه وربښت بند کړه، اوبه کمې شوې او کار پای ته ورسید ، کښتی( روغه رمټه) د جودی په غره ودریده او عام اعلان وشو: رټلې او شړلی دې وی ظالمان د الله له رحمته.

وَنَادَىٰ نُوحٞ رَّبَّهُۥ فَقَالَ رَبِّ إِنَّ ٱبۡنِي مِنۡ أَهۡلِي وَإِنَّ وَعۡدَكَ ٱلۡحَقُّ وَأَنتَ أَحۡكَمُ ٱلۡحَٰكِمِينَ ﴿٤٥﴾

او نوح خپل رب ته غږ کړ : ای زما ربه! زما زوی خو زما د کورنی غړی دی( او زما د کورنی د نجات لپاره) ستا وعده حقه ده او ته تر ټولو ښه قضاوت کوونکی یې.

قَالَ يَـٰنُوحُ إِنَّهُۥ لَيۡسَ مِنۡ أَهۡلِكَۖ إِنَّهُۥ عَمَلٌ غَيۡرُ صَٰلِحٖۖ فَلَا تَسۡـَٔلۡنِ مَا لَيۡسَ لَكَ بِهِۦ عِلۡمٌۖ إِنِّيٓ أَعِظُكَ أَن تَكُونَ مِنَ ٱلۡجَٰهِلِينَ ﴿٤٦﴾

الله تعالی وفرمایل: ای نوحه! هغه ستا له کورنی څخه نه حسابیږی ځکه بدعمله او مفسد دی( او په« الا من سبق علیه القول» کې شمیرل کیږی) نو هغه څه له ما، مه غواړه چې په حقیقت یې نه پوهیږې. زما نصیحت درته دا دی چې د ناپوهانو په شان غوښتنه مه کوه.

قَالَ رَبِّ إِنِّيٓ أَعُوذُ بِكَ أَنۡ أَسۡـَٔلَكَ مَا لَيۡسَ لِي بِهِۦ عِلۡمٞۖ وَإِلَّا تَغۡفِرۡ لِي
وَتَرۡحَمۡنِيٓ أَكُن مِّنَ ٱلۡخَٰسِرِينَ ٤٧

**نوح وويل: زما ربه زه له هغو غوښتنو تاته پناه دروړم چې ورباندې نه پوهیږم او که ته ما ونه ښښې او راباندې ونه رحمیږې زه به هم په زیانکارانو کې وشمیرل شم.**

قِيلَ يَٰنُوحُ ٱهۡبِطۡ بِسَلَٰمٖ مِّنَّا وَبَرَكَٰتٍ عَلَيۡكَ وَعَلَىٰٓ أُمَمٖ مِّمَّن مَّعَكَۚ
وَأُمَمٞ سَنُمَتِّعُهُمۡ ثُمَّ يَمَسُّهُم مِّنَّا عَذَابٌ أَلِيمٞ ٤٨

**ورته امر وشو، ای نوحه: له کښتی راښکته شه. زمونږ له خوا دې په تا او ستا په ملګرو( او د هغوی په راتلونکو نسلونو او اخلافو) سلام او برکتونه وی. خو هغه ډلې به چې نعمتونه مو پرې لورولی (او دوی یې ناشکری کوی) په دردوونکی عذاب اخته کړو.**

تِلۡكَ مِنۡ أَنۢبَآءِ ٱلۡغَيۡبِ نُوحِيهَآ إِلَيۡكَۖ مَا كُنتَ تَعۡلَمُهَآ أَنتَ وَلَا قَوۡمُكَ مِن
قَبۡلِ هَٰذَاۖ فَٱصۡبِرۡۖ إِنَّ ٱلۡعَٰقِبَةَ لِلۡمُتَّقِينَ ٤٩

**ای پیغمبره! دا د غیب یوه واقعه ده چې مونږ یې تاته د وحې په واسطه بیانوو، پخوا ورباندې نه ته خبر وې او نه دې قوم. نو( زمونږ د پیغام په اورولو کې د دې تاریخی واقعاتو مثالونه هم وړاندې کړه) او صبر کوه بیشکه چې د پرهیزګارانو انجام او عاقبت ډیر نیک دی.**

وَإِلَىٰ عَادٍ أَخَاهُمۡ هُودٗاۚ قَالَ يَٰقَوۡمِ ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ مَا لَكُم مِّنۡ إِلَٰهٍ
غَيۡرُهُۥٓۖ إِنۡ أَنتُمۡ إِلَّا مُفۡتَرُونَ ٥٠

**او د عاد قوم ته مو، د هغوی( قومی) ورور هود (ورواستاوه) چې ورته یې وویل: ای زما قومه د الله تعالی عبادت وکړئ له هغه نه غیر مو، بل خدای نشته. تاسو( د دغو باطلو خدایانو په غوره کولو سره) د دروغو او افترا مرتکب شوی یاست.**

يَٰقَوۡمِ لَآ أَسۡـَٔلُكُمۡ عَلَيۡهِ أَجۡرًاۖ إِنۡ أَجۡرِيَ إِلَّا عَلَى ٱلَّذِي فَطَرَنِيٓۚ أَفَلَا
تَعۡقِلُونَ ﴿٥١﴾

**ای زما قومه! زه د الهی احکامو د ابلاغ په بدل کې ستاسو نه څه اجوره او معاوضه نه غواړم. زما اجر د هغه ذات په ذمه دی چې زه یې( له نیست نه) هست کړی یم. آیا تاسو( د حق او باطل د تفکیک لپاره) له عقل نه کار نه اخلی؟**

وَيَٰقَوۡمِ ٱسۡتَغۡفِرُواْ رَبَّكُمۡ ثُمَّ تُوبُوٓاْ إِلَيۡهِ يُرۡسِلِ ٱلسَّمَآءَ
عَلَيۡكُم مِّدۡرَارٗا وَيَزِدۡكُمۡ قُوَّةً إِلَىٰ قُوَّتِكُمۡ وَلَا تَتَوَلَّوۡاْ
مُجۡرِمِينَ ﴿٥٢﴾

**او ای قومه! ( د شرک د ارتکاب له امله) له خپل رب نه بښنه وغواړئ او په اخلاص سره د هغه ذات عبادت ته ځانونه وقف کړئ تر څو دربانديې (دا اوږد مهاله وچکالئ او سوکړه ختمه) او له آسمانه دربانديې په شیبو شیبو بارانونه وورون او ستاسو اوسنئ پیاوړتیا نوره هم زیاته کړی او په مجرمانه توګه( له حق نه) مخ مه اړوئ.**

قَالُواْ يَٰهُودُ مَا جِئۡتَنَا بِبَيِّنَةٖ وَمَا نَحۡنُ بِتَارِكِيٓ ءَالِهَتِنَا عَن
قَوۡلِكَ وَمَا نَحۡنُ لَكَ بِمُؤۡمِنِينَ ﴿٥٣﴾

**قوم یې وویل: ای هوده! مونږ ته دې کوم قانع کوونکی دلیل نه دی راوړی او مونږ ستا( په دې ډول خبرو) نه له خپلو خدایانو لاس اخلو او نه په تا ایمان راوړو.**

إِن نَّقُولُ إِلَّا ٱعۡتَرَىٰكَ بَعۡضُ ءَالِهَتِنَا بِسُوٓءٖۗ قَالَ إِنِّيٓ أُشۡهِدُ ٱللَّهَ
وَٱشۡهَدُوٓاْ أَنِّي بَرِيٓءٞ مِّمَّا تُشۡرِكُونَ ﴿٥٤﴾

**ستا په باب زمونږ پوره باور دادی چې زمونږ ځینو خدایانو ستا(اعصابو ته)صدمه رسولې ده. هود وویل: زه الله تعالی په ځان ګواه نیسم او تاسو هم شاهدان اوسئ چې زه ستاسو له مشرکانه اعمالو نه کاملاً بیزاره یم.**

مِن دُونِهِۦۖ فَكِيدُونِي جَمِيعٗا ثُمَّ لَا تُنظِرُونِ ﴿٥٥﴾

**له الله تعالى نه غير مو، ټول باطل خدايان سره راټول او تر خپله وسه مو هره دسيسه په کار واچوئ او په ما هيڅ ايله او صرفه مه کوئ.**

إِنِّي تَوَكَّلْتُ عَلَى ٱللَّهِ رَبِّي وَرَبِّكُم ۚ مَّا مِن دَآبَّةٍ إِلَّا هُوَ ءَاخِذٌۢ بِنَاصِيَتِهَآ ۚ إِنَّ
رَبِّي عَلَىٰ صِرَٰطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴿٥٦﴾

**بيشکه چې زما توکل په الله تعالى دی چې هم زما رب دی او هم ستاسو. او هيڅ داسې خوځنده او ساکښ نشته چې د واک واګې يې د الله په قدرت او فرمان کې نه وي. او بيشکه چې زما رب په مستقيمه او حقه لار دی.**

فَإِن تَوَلَّوْا۟ فَقَدْ أَبْلَغْتُكُم مَّآ أُرْسِلْتُ بِهِۦٓ إِلَيْكُمْ ۚ وَيَسْتَخْلِفُ رَبِّي قَوْمًا
غَيْرَكُمْ وَلَا تَضُرُّونَهُۥ شَيْـًٔا ۚ إِنَّ رَبِّي عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ حَفِيظٌ ﴿٥٧﴾

**نو که تاسو (له حق نه) مخ وګرځوئ( زيان مو خپل دی) ما هغه پيغام تاسو ته رسولی چې زه ورباندې ګومارل شوی يم. الله تعالى( به تاسو هلاک کړی او) يوه بله ډله به ستاسو په ځای واک ته ورسوی او تاسو به ورته هيڅ زيان نشئ اړولی ځکه زما رب په ټولو شيانو څارونکی دی( او ستاسو هيڅ عمل ترې پټ نه پاتې کيږی).**

وَلَمَّا جَآءَ أَمْرُنَا نَجَّيْنَا هُودًا وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ مَعَهُۥ بِرَحْمَةٍ مِّنَّا وَنَجَّيْنَٰهُم
مِّنْ عَذَابٍ غَلِيظٍ ﴿٥٨﴾

**او کله چې( د هغوی د مجازات لپاره) زمونږ فرمان صادر شو، هود او د هغه مؤمنان ملګری مو پخپل خاص رحمت سره وژغورل او له سخت عذاب نه مو خلاص کړل.**

وَتِلْكَ عَادٌ ۖ جَحَدُوا۟ بِـَٔايَٰتِ رَبِّهِمْ وَعَصَوْا۟ رُسُلَهُۥ وَٱتَّبَعُوٓا۟ أَمْرَ كُلِّ جَبَّارٍ
عَنِيدٍ ﴿٥٩﴾

**او همدا د عاد قوم و چې د خپل رب د احکامو په مقابل کې يې کفر غوره کړ، د الله تعالى له پيغمبرانو سره يې دښمنی او د هر جګړه مار باغی ملاتړ يې کاوه.**

وَأُتْبِعُواْ فِي هَٰذِهِ ٱلدُّنْيَا لَعْنَةٗ وَيَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِۗ أَلَآ إِنَّ عَادٗا كَفَرُواْ رَبَّهُمْۗ أَلَا
بُعْدٗا لِّعَادٖ قَوْمِ هُودٖ ٦٠

او له همدې امله به په دنیا او آخرت کې په لعنتونو بدرگه کیږی . واورئ چې عادیان له خپل رب نه منکر او باغیان وو. رټل شوی دې وی د الله له رحمته عادیان، دغه د هود قوم.

۞ وَإِلَىٰ ثَمُودَ أَخَاهُمْ صَٰلِحٗاۚ قَالَ يَٰقَوْمِ ٱعْبُدُواْ ٱللَّهَ مَا لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ
غَيْرُهُۥۖ هُوَ أَنشَأَكُم مِّنَ ٱلْأَرْضِ وَٱسْتَعْمَرَكُمْ فِيهَا فَٱسْتَغْفِرُوهُ ثُمَّ تُوبُوٓاْ إِلَيْهِۚ
إِنَّ رَبِّي قَرِيبٞ مُّجِيبٞ ٦١

او ثمودیانو ته مو د هغوی( قومی) ورور صالح (ورواستاوه ) چې ورته یې وویل: ای زما قومه! د الله تعالی عبادت وکړئ، له هغه نه غیر بل خدای نه لرئ. الله تعالی تاسو له ځمکې راپیدا کړئ او بیا یې درته هلته اوږده عمرونه درکړل، نو تاسو له هغه ببننه وغواړئ( او په وحدانیت یې ومنئ) او په مخلصانه توگه هغه ته متوجه شئ ځکه زما رب (خپلو بندگانو ته) ډیر نږدې او د هغوی د دعاگانو قبلوونکی دی.

قَالُواْ يَٰصَٰلِحُ قَدْ كُنتَ فِينَا مَرْجُوّٗا قَبْلَ هَٰذَآۖ أَتَنْهَىٰنَآ أَن نَّعْبُدَ مَا يَعْبُدُ
ءَابَآؤُنَا وَإِنَّنَا لَفِي شَكّٖ مِّمَّا تَدْعُونَآ إِلَيْهِ مُرِيبٖ ٦٢

قوم یې وویل: ای صالحه! پخوا مو درته( د یوه پوه او عالم شخصیت په توگه) ډیر امیدونه لرل، اوس مونږ له هغو( خدایانو) منع کوې چې زمونږ پلرونو- نیکونو ورته د عبادت سجدې کړی دی. هغه دعوت چې مونږ ته دې راوړی، مونږ یې په سخت شک او تردید کې غورزولی یو.

قَالَ يَٰقَوْمِ أَرَءَيْتُمْ إِن كُنتُ عَلَىٰ بَيِّنَةٖ مِّن رَّبِّي وَءَاتَىٰنِي مِنْهُ
رَحْمَةٗ فَمَن يَنصُرُنِي مِنَ ٱللَّهِ إِنْ عَصَيْتُهُۥۖ فَمَا تَزِيدُونَنِي غَيْرَ
تَخْسِيرٖ ٦٣

صالح وویل: ای زما قومه په دې مې پوه کړئ چې که زه د خپل رب له لوری په روښانه دلیل متکی او ولاړ یم او په ما یې خاص رحمت لورولی وی او( بیا د هغه د فرمان له ابلاغ نه) سر غړونه وکړم، څوک به مې د هغه له عذابه خلاص کړی؟ نو ستاسو دغه ډول بې ځایه خبرې له زیان نه غیر، ماته څه ګټه نه رسوی.

وَيَٰقَوۡمِ هَٰذِهِۦ نَاقَةُ ٱللَّهِ لَكُمۡ ءَايَةٗ فَذَرُوهَا تَأۡكُلۡ فِيٓ
أَرۡضِ ٱللَّهِ وَلَا تَمَسُّوهَا بِسُوٓءٖ فَيَأۡخُذَكُمۡ عَذَابٞ قَرِيبٞ ٦٤

او ای قومه! دا د الله اوښه ده چې تاسو ته( زما د نبوت د ثبوت لپاره) د معجزې په توګه (له یوې وچې تیږې را ایستل شوې) پریږدئ چې د الله په ځمکه کې وڅری او ضرر ورته مه رسوئ که نه ډیر زر به په عذاب اخته شئ.

فَعَقَرُوهَا فَقَالَ تَمَتَّعُواْ فِي دَارِكُمۡ ثَلَٰثَةَ أَيَّامٖۖ ذَٰلِكَ وَعۡدٌ
غَيۡرُ مَكۡذُوبٖ ٦٥

خو هغوی( په بغاوت او بې رحمی سره) اوښه ووژله، نو صالح ورته وویل: درې ورځې پخپلو کورونو کې ژوند وکړئ( او پوه شئ چې) دا دروغجنه وعده نه ده.

فَلَمَّا جَآءَ أَمۡرُنَا نَجَّيۡنَا صَٰلِحٗا وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مَعَهُۥ بِرَحۡمَةٖ
مِّنَّا وَمِنۡ خِزۡيِ يَوۡمِئِذٍۗ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ ٱلۡقَوِيُّ ٱلۡعَزِيزُ ٦٦

نو کله چې( د هغوی د عذاب له پاره) زمونږ فرمان ورسید پخپل خاص رحمت سره مو صالح او د هغه مؤمنان ملګری د هغې ورځې له ذلت او رسوایی نه وژغورل،(ای پیغمبره!) بیشکه چې ستا رب یوازینی پیاوړی او په هر اقدام برلاسی قوت دی.

وَأَخَذَ ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ ٱلصَّيۡحَةُ فَأَصۡبَحُواْ فِي دِيَٰرِهِمۡ
جَٰثِمِينَ ٦٧

او بیا هر ظالم او تیری کوونکی د یوې ناڅاپي سختې او مرګونې چیغې په واسطه، پخپل خپل کور کې پرمخې هلاک پریوت.

كَأَن لَّمۡ يَغۡنَوۡاْ فِيهَآۗ أَلَآ إِنَّ ثَمُودَاْ كَفَرُواْ رَبَّهُمۡۗ أَلَا بُعۡدٗا لِّثَمُودَ ٦٨

داسي چې تا به ویل له سره دلته اوسیدلی او پائیدلی نه دی. واورئ همدا ثمودیان وو، چې د خپل رب په مقابل کې یې کفرغوره کړې و، نو محروم او رټلې دې وی ثمودیان د الله له رحمته.

وَلَقَدْ جَآءَتْ رُسُلُنَآ إِبْرَٰهِيمَ بِٱلْبُشْرَىٰ قَالُوا۟ سَلَٰمًا ۖ قَالَ سَلَٰمٌ ۖ فَمَا لَبِثَ أَن جَآءَ بِعِجْلٍ حَنِيذٍ ﴿٦٩﴾

او زمونږ پرښتي له زیری سره ابراهیم ته ورغلي او ویې ویل: سلام دې وی په تا. هغه هم په سلام سره ځواب ورکړ او په درنګ شیبه کې یې ورته د خوسی د غوښې کباب راوړ.

فَلَمَّا رَءَآ أَيْدِيَهُمْ لَا تَصِلُ إِلَيْهِ نَكِرَهُمْ وَأَوْجَسَ مِنْهُمْ خِيفَةً ۚ قَالُوا۟ لَا تَخَفْ إِنَّآ أُرْسِلْنَآ إِلَىٰ قَوْمِ لُوطٍ ﴿٧٠﴾

خو چې یې وکتل د میلمنو لاسونه خوراک ته نه رسی، ورته ناآشنا ښکاره شول او ترې وورید. ملایکو ورته وویل: مه ویریږه، مونږ د لوط د قوم په لور رالستول شوی یو.

وَٱمْرَأَتُهُۥ قَآئِمَةٌ فَضَحِكَتْ فَبَشَّرْنَٰهَا بِإِسْحَٰقَ وَمِن وَرَآءِ إِسْحَٰقَ يَعْقُوبَ ﴿٧١﴾

او( د ابراهیم میرمن) چې هم هلته ولاړه وه( د پرښتو له خوا د تسلی په ورکولو او ویرې په ختمیدو) په خندا شوه، نو هغې ته مو د( زوی) اسحاق او وروسته( د هغه له نسله د لمسی) یعقوب د زیږیدو زیری ورکړ.

قَالَتْ يَٰوَيْلَتَىٰٓ ءَأَلِدُ وَأَنَا۠ عَجُوزٌ وَهَٰذَا بَعْلِى شَيْخًا ۖ إِنَّ هَٰذَا لَشَىْءٌ عَجِيبٌ ﴿٧٢﴾

(د ابراهیم میرمن) وویل: های( دا څه اورم) زه بوډۍ به له خپل عمر خوړلی سپین ږیری خاوند نه زوی زیږووم. دا څه نادوده ناآشنا کار دی.

قَالُوٓا۟ أَتَعْجَبِينَ مِنْ أَمْرِ ٱللَّهِ ۖ رَحْمَتُ ٱللَّهِ وَبَرَكَٰتُهُۥ عَلَيْكُمْ أَهْلَ ٱلْبَيْتِ ۚ إِنَّهُۥ حَمِيدٌ مَّجِيدٌ ﴿٧٣﴾

(پرښتو) وويل: د الله کړه درته نااشنا او عجيب ښکاری؟ ای د نبوت کورنی د الله رحمتونه او برکتونه دې وی په تاسو، بيشکه چې الله تعالی د ستاينې وړ بزرګوار ذات دی.

فَلَمَّا ذَهَبَ عَنْ إِبْرَٰهِيمَ ٱلرَّوْعُ وَجَآءَتْهُ ٱلْبُشْرَىٰ يُجَٰدِلُنَا فِى قَوْمِ
لُوطٍ ﴿٧٤﴾

له ابراهيم نه چې کله ويره او ترهه ورکه شوه او زيری يې هم واوريد، نو بيا يې د لوط د قوم ( د نجات) لپاره زمونږ سره مجادله راواخسته.

إِنَّ إِبْرَٰهِيمَ لَحَلِيمٌ أَوَّٰهٌ مُّنِيبٌ ﴿٧٥﴾

بيشکه چې ابراهيم د زيات زغم لرونکی، زړه سواند او( الله تعالی ته) رجوع کوونکی شخصيت و.

يَٰٓإِبْرَٰهِيمُ أَعْرِضْ عَنْ هَٰذَآ ۖ إِنَّهُۥ قَدْ جَآءَ أَمْرُ رَبِّكَ ۖ وَإِنَّهُمْ ءَاتِيهِمْ عَذَابٌ
غَيْرُ مَرْدُودٍ ﴿٧٦﴾

( پرښتو ورته وويل:) ای ابراهيمه له دې خبرو تير شه ځکه( د لوط د قوم په باب) ستا د رب حکم صادر شوی او په نه ستنيدونکی عذاب محکوم شوی دی.

وَلَمَّا جَآءَتْ رُسُلُنَا لُوطًا سِىٓءَ بِهِمْ وَضَاقَ بِهِمْ ذَرْعًا وَقَالَ هَٰذَا
يَوْمٌ عَصِيبٌ ﴿٧٧﴾

او کله چې زمونږ استازی لوط ته راغلل، زړه يې سخت تنګ او غمجن شو( ځکه  له قوم څخه يې د ميلمنو د دفاع او نجات توان په ځان کې نه ليده نو په افسوس يې) وويل: څه له غم او مصيبته ډکه ورځ ده؟

وَجَآءَهُۥ قَوْمُهُۥ يُهْرَعُونَ إِلَيْهِ وَمِن قَبْلُ كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ٱلسَّيِّـَٔاتِ ۚ قَالَ
يَٰقَوْمِ هَٰٓؤُلَآءِ بَنَاتِى هُنَّ أَطْهَرُ لَكُمْ ۖ فَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ وَلَا تُخْزُونِ فِى
ضَيْفِىٓ ۖ أَلَيْسَ مِنكُمْ رَجُلٌ رَّشِيدٌ ﴿٧٨﴾

او د قوم خلک یې چې لا پخوا مفسد او بد عمله وو( په میلمنو باندې د حملې لپاره له هرې خوا رامات شول.
لوط ورته وویل: ای قومه دا زما لوڼه( د واده لپاره) تاسو ته ډیرې پاکې دی، له الله نه ووېرېږئ او د میلمنو په وړاندې مې مه بې عزته کوئ. آیا کوم نیک او د سمې لارې سړی درپکې شته؟

قَالُوا۟ لَقَدْ عَلِمْتَ مَا لَنَا فِى بَنَاتِكَ مِنْ حَقٍّ وَإِنَّكَ لَتَعْلَمُ مَا نُرِيدُ ﴿٧٩﴾

هغوی وویل: ته ښه پوهیږې چې ستا په لوڼو کې زموږ هیڅ حق نشته او په دې هم پوهیږې چې موږ څه غواړو؟

قَالَ لَوْ أَنَّ لِى بِكُمْ قُوَّةً أَوْ ءَاوِىٓ إِلَىٰ رُكْنٍ شَدِيدٍ ﴿٨٠﴾

لوط وویل: کاش ستاسو د مقابلې زور راسره وی او یا مې کومې پیاوړې مرجع او اسرې ته پناه وړی وی.

قَالُوا۟ يَٰلُوطُ إِنَّا رُسُلُ رَبِّكَ لَن يَصِلُوٓا۟ إِلَيْكَ ۖ فَأَسْرِ بِأَهْلِكَ بِقِطْعٍ
مِّنَ ٱلَّيْلِ وَلَا يَلْتَفِتْ مِنكُمْ أَحَدٌ إِلَّا ٱمْرَأَتَكَ ۖ إِنَّهُۥ مُصِيبُهَا مَآ
أَصَابَهُمْ ۚ إِنَّ مَوْعِدَهُمُ ٱلصُّبْحُ ۚ أَلَيْسَ ٱلصُّبْحُ بِقَرِيبٍ ﴿٨١﴾

میلمنو وویل: ای لوطه! موږ ستا د رب استازی یو، دوی هیڅ ضرر هم نشی در رسولی، خپله کورنۍ شپې د شپې له دې ځایه وباسه او یو تن هم بیرته مه راځئ خو میرمن ته دی د تللو اجازه نشته ځکه هغه هم د دغو مفسدانو په شان په عذاب محکومه ده. د دوی د هلاکت لپاره سپیده داغ مهال ټاکل شوی، آیا سپیده داغ نږدې نه دی؟

فَلَمَّا جَآءَ أَمْرُنَا جَعَلْنَا عَٰلِيَهَا سَافِلَهَا وَأَمْطَرْنَا عَلَيْهَا
حِجَارَةً مِّن سِجِّيلٍ مَّنضُودٍ ﴿٨٢﴾

نو کله چې زموږ عذاب راورسید توله سیمه مو په بل مخ راواړوله او د پخو ختینو کانو باران مو ورباندې ووراوه.

مُّسَوَّمَةً عِندَ رَبِّكَ ۖ وَمَا هِىَ مِنَ ٱلظَّٰلِمِينَ بِبَعِيدٍ ﴿٨٣﴾

داسې کاڼي چې هر یو ستا د رب له خوا( رهبری کیده او د هر تن لپاره) په نښه شوی و، او یو هم له ظالمانو بل خوا نه لګیده.

۞ وَإِلَىٰ مَدۡيَنَ أَخَاهُمۡ شُعَيۡبٗاۚ قَالَ يَٰقَوۡمِ ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ مَا لَكُم
مِّنۡ إِلَٰهٍ غَيۡرُهُۥۖ وَلَا تَنقُصُواْ ٱلۡمِكۡيَالَ وَٱلۡمِيزَانَۚ إِنِّيٓ أَرَىٰكُم
بِخَيۡرٖ وَإِنِّيٓ أَخَافُ عَلَيۡكُمۡ عَذَابَ يَوۡمٖ مُّحِيطٖ ﴿٨٤﴾

او د مدين( د خلكو) په لور مو، د هغوی ورور شعيب( ورواستاوه) چې ورته يې وويل: ای زما قومه! د الله تعالی عبادت وكړی، د هغه نه غير مو بل خدای نشته او په تله او پيمانه كې كمی مه كوئ. زه ستاسو د خير خبره كوم او ويرېږم چې د راچاپيره كيدونكی عذاب ورځ به دربانديې راشی.

وَيَٰقَوۡمِ أَوۡفُواْ ٱلۡمِكۡيَالَ وَٱلۡمِيزَانَ بِٱلۡقِسۡطِۖ وَلَا تَبۡخَسُواْ
ٱلنَّاسَ أَشۡيَآءَهُمۡ وَلَا تَعۡثَوۡاْ فِي ٱلۡأَرۡضِ مُفۡسِدِينَ ﴿٨٥﴾

او ای زما قومه! پيمانه او تله په عدل او انصاف سره پوره پوره وركوئ او د خلكو اجناس( د پلور په وخت كې) مه كموئ او په ځمكه كې ورانكاری او فساد مه كوئ .

بَقِيَّتُ ٱللَّهِ خَيۡرٞ لَّكُمۡ إِن كُنتُم مُّؤۡمِنِينَۚ وَمَآ أَنَا۠ عَلَيۡكُم
بِحَفِيظٖ ﴿٨٦﴾

كه مؤمنان ياست( او پوهيږئ) نو هغه گټه درته ډيره ښه او غوره ده چې( الله تعالی يې درته په كسب كار كې حلاله) پاتې كوی او زه په تاسو باندې څارونكی او ساتونكی نه يم( چې له مفاسدو مو راوگرځوم او يا درته لازمه سزا دركړم).

قَالُواْ يَٰشُعَيۡبُ أَصَلَوٰتُكَ تَأۡمُرُكَ أَن نَّتۡرُكَ مَا يَعۡبُدُ
ءَابَآؤُنَآ أَوۡ أَن نَّفۡعَلَ فِيٓ أَمۡوَٰلِنَا مَا نَشَٰٓؤُاْۖ إِنَّكَ لَأَنتَ ٱلۡحَلِيمُ
ٱلرَّشِيدُ ﴿٨٧﴾

**هغوی وویل: ای شعیبه! لمونځونه دې همدغه حکم درته کوی چې مونږ د خپلو پلرونو نیکونو د خدایانو له عبادت نه راوګرځوو او هم مو پخپلو مالونو کې د خپلې خوښې له تصرف نه منع کړې، ستا د حلم او نیک خویې تقاضا ایله همدغه ده؟**

قَالَ يَٰقَوۡمِ أَرَءَيۡتُمۡ إِن كُنتُ عَلَىٰ بَيِّنَةٖ مِّن رَّبِّي وَرَزَقَنِي مِنۡهُ رِزۡقًا
حَسَنٗاۚ وَمَآ أُرِيدُ أَنۡ أُخَالِفَكُمۡ إِلَىٰ مَآ أَنۡهَىٰكُمۡ عَنۡهُۚ إِنۡ أُرِيدُ
إِلَّا ٱلۡإِصۡلَٰحَ مَا ٱسۡتَطَعۡتُۚ وَمَا تَوۡفِيقِيٓ إِلَّا بِٱللَّهِۚ عَلَيۡهِ تَوَكَّلۡتُ وَإِلَيۡهِ
أُنِيبُ ٨٨

**شعیب وویل ای قومه! په دې مې پوه کړئ چې که زه د خپل رب له لوری په روښانه دلیل متکی او ولاړ یم او د هغه له خوا راته پاکه روزی هم رارسی( نو زه ولې د خپل رب نافرمانی وکړم؟) او دا هم نه نشم کولی چې تاسو له یوې ګناه منع کړم او پخپله پکې ملوث شم. زه به تر خپله وسه ستاسو د اصلاح کوښښ وکړم، یوازې له الله تعالی نه مرسته او توفیق غواړم، یوازې په هماغه ذات مې توکل دی او هماغه ذات ته پناه وړم.**

وَيَٰقَوۡمِ لَا يَجۡرِمَنَّكُمۡ شِقَاقِيٓ أَن يُصِيبَكُم مِّثۡلُ مَآ أَصَابَ قَوۡمَ نُوحٍ
أَوۡ قَوۡمَ هُودٍ أَوۡ قَوۡمَ صَٰلِحٖۚ وَمَا قَوۡمُ لُوطٖ مِّنكُم بِبَعِيدٖ ٨٩

**او ای زما قومه! هسې نه چې زما سره د دښمنی او عداوت له امله درباندې هغه عذابونه نازل شی چې د نوح، هود او صالح قومونه ورباندې اخته شوی او د لوط قوم هم( د زمان او مکان له لحاظه) ستاسو نه لیرې نه دی.**

وَٱسۡتَغۡفِرُواْ رَبَّكُمۡ ثُمَّ تُوبُوٓاْ إِلَيۡهِۚ إِنَّ رَبِّي رَحِيمٞ وَدُودٞ ٩٠

**او له خپل رب نه بښنه وغواړئ او په اخلاص سره ورته توبه وباسئ، بیشکه چې زما رب ډیر مهربان او( له توبه کوونکو سره) مینه لری.**

قَالُواْ يَٰشُعَيۡبُ مَا نَفۡقَهُ كَثِيرٗا مِّمَّا تَقُولُ وَإِنَّا لَنَرَىٰكَ فِينَا ضَعِيفٗاۖ
وَلَوۡلَا رَهۡطُكَ لَرَجَمۡنَٰكَۖ وَمَآ أَنتَ عَلَيۡنَا بِعَزِيزٖ ٩١

**هغوی وویل: ای شعیبه! مونږ ستا په ډیرو خبرو نه پوهیږو او ته زمونږ په منځ کې یو کمزوری او بې وسه سړی یې، که د کورنۍ او خپلوانو لحاظ او خاطر دې نه وی نو سنګسار کړی به مو وی ځکه هیڅ زور دې راسره نه رسی.**

قَالَ يَٰقَوۡمِ أَرَهۡطِيٓ أَعَزُّ عَلَيۡكُم مِّنَ ٱللَّهِ وَٱتَّخَذۡتُمُوهُ وَرَآءَكُمۡ
ظِهۡرِيًّاۖ إِنَّ رَبِّي بِمَا تَعۡمَلُونَ مُحِيطٞ ﴿٩٢﴾

**هغه وویل: ای زما قومه! زما کوچنۍ کورنۍ تاسو ته له الله تعالی نه پیاوړې ښکاری چې الله مو هیر کړی او شاته مو غورزولی خو( وپوهیږۍ چې) هغه ستاسو په ټولو کړو وړو پوره احاطه لری.**

وَيَٰقَوۡمِ ٱعۡمَلُواْ عَلَىٰ مَكَانَتِكُمۡ إِنِّي عَٰمِلٞۖ سَوۡفَ تَعۡلَمُونَ
مَن يَأۡتِيهِ عَذَابٞ يُخۡزِيهِ وَمَنۡ هُوَ كَٰذِبٞۖ وَٱرۡتَقِبُوٓاْ إِنِّي
مَعَكُمۡ رَقِيبٞ ﴿٩٣﴾

**او ای زما قومه! وکړۍ، هر څه چې مو له وسه وی، خو زه به خپل (الهی ماموریت) ته دوام ورکوم. زر به پوه شۍ چې څوک په رسوا کوونکی عذاب اخته کیږی او دروغجن څوک دی؟ تاسو هم انتظار کوۍ او زه به هم ستاسو سره سترګې په لار یم.**

وَلَمَّا جَآءَ أَمۡرُنَا نَجَّيۡنَا شُعَيۡبٗا وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مَعَهُۥ بِرَحۡمَةٖ مِّنَّا
وَأَخَذَتِ ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ ٱلصَّيۡحَةُ فَأَصۡبَحُواْ فِي دِيَٰرِهِمۡ جَٰثِمِينَ ﴿٩٤﴾

**او کله چې زمونږ عذاب راورسید، شعیب او د هغه مؤمنان ملګری مو پخپل خاص رحمت سره وژغورل او هغه کسان چې زما له( آیتونو سره یې) ظلم کړی و، یوې داسې مرګونې چیغې راونیول چې ورسره هر سړی پخپل خپل کور، ځای په ځای پړمخې مړ پریوت.**

كَأَن لَّمۡ يَغۡنَوۡاْ فِيهَآۗ أَلَا بُعۡدٗا لِّمَدۡيَنَ كَمَا بَعِدَتۡ ثَمُودُ ﴿٩٥﴾

**تا به ویل چې له سره په دې کورونو کې اوسیدلی نه وو. واورۍ، رټلی دې وی مدین وال( د الله له رحمته) لکه چې رټل شوی وو ثمودیان.**

وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا مُوسَىٰ بِـَٔايَٰتِنَا وَسُلْطَٰنٍ مُّبِينٍ ﴿٩٦﴾

او موسى مو له خپلو معجزو او څرګند دليل سره واستاوه.

إِلَىٰ فِرْعَوْنَ وَمَلَإِيْهِۦ فَٱتَّبَعُوٓا۟ أَمْرَ فِرْعَوْنَ ۖ وَمَآ أَمْرُ فِرْعَوْنَ بِرَشِيدٍ ﴿٩٧﴾

فرعون او د هغه د قوم سردارانو او اشرافو ته. (خو هغوی د خپل جاه و جلال او شتمنۍ د ساتلو لپاره) د فرعون حکم ته غاړه کیښوده، سره له دې چې د فرعون حکم د نیکمرغۍ او هوسایۍ په لار برابر نه و.

يَقْدُمُ قَوْمَهُۥ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ فَأَوْرَدَهُمُ ٱلنَّارَ ۖ وَبِئْسَ ٱلْوِرْدُ ٱلْمَوْرُودُ ﴿٩٨﴾

فرعون به د قیامت په ورځ د خپل قوم( د رهبر په حیث) په لومړی صف کې روان وی او هغوی به د دوزخ اور ته رهبری کوی، څه بد مرغه ځای دی چې دوی به ورروان وی.

وَأُتْبِعُوا۟ فِى هَٰذِهِۦ لَعْنَةً وَيَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ ۚ بِئْسَ ٱلرِّفْدُ ٱلْمَرْفُودُ ﴿٩٩﴾

او په دنیا او آخرت کې به په لعنتونو بدرګه کیږی. څه بد سوغات دی چې دوی ته ورکړی کیږی.

ذَٰلِكَ مِنْ أَنۢبَآءِ ٱلْقُرَىٰ نَقُصُّهُۥ عَلَيْكَ ۖ مِنْهَا قَآئِمٌ وَحَصِيدٌ ﴿١٠٠﴾

ای پیغمبره! دا د ښارونو( او د هغو د اوسیدونکو) داستانونه دی چې تاته یې بیانوو. ځینې دغه ښارونه( لکه د فرعون د سلطنت مرکز مصر) اوس هم پخپل حال آباد دی او ځینې یې د لو شوی فصل( په شان) باد وړی دی.

وَمَا ظَلَمْنَٰهُمْ وَلَٰكِن ظَلَمُوٓا۟ أَنفُسَهُمْ ۖ فَمَآ أَغْنَتْ عَنْهُمْ ءَالِهَتُهُمُ ٱلَّتِى يَدْعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ مِن شَىْءٍ لَّمَّا جَآءَ أَمْرُ رَبِّكَ ۖ وَمَا زَادُوهُمْ غَيْرَ تَتْبِيبٍ ﴿١٠١﴾

او مونږ په هغوی زور زیاتی نه دی کړی بلکه هغوی ( د کفر او عناد په غوره کولو سره) پخپلو ځانونو ظلم کړی، او کله چې ستا د رب عذاب راورسید، هغو باطلو خدایانو چې د الله په مقابل کې یې په عبادت نیولی وو،

له دوی څخه د عذاب یوه خاشه هم کمه نه کړه بلکه له زیان او هلاکت نه غیر یې هیڅ ګټه هم ورته ونه رسوله.

وَكَذَٰلِكَ أَخۡذُ رَبِّكَ إِذَآ أَخَذَ ٱلۡقُرَىٰ وَهِيَ ظَٰلِمَةٌۚ إِنَّ أَخۡذَهُۥٓ أَلِيمٞ شَدِيدٌ ﴿١٠٢﴾

او همداسې ده ستا د رب مواخذه چې کله د ښارونو ظالمان راونیسی نو نیول او مواخذه یې بیا ډیره سخته او دردوونکی ده.

إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَةٗ لِّمَنۡ خَافَ عَذَابَ ٱلۡأٓخِرَةِۚ ذَٰلِكَ يَوۡمٞ مَّجۡمُوعٞ لَّهُ ٱلنَّاسُ وَذَٰلِكَ يَوۡمٞ مَّشۡهُودٞ ﴿١٠٣﴾

بیشکه چې په دغو مواخذو کې، له آخرت نه د ویریدونو خلکو له پاره د عبرت درس پروت دی. هغه ورځ چې خلک به راټول کړی شی او ټولې کړنې به یې رامیدان ته شی.

وَمَا نُؤَخِّرُهُۥٓ إِلَّا لِأَجَلٖ مَّعۡدُودٖ ﴿١٠٤﴾

او مونږ د دغې ورځې راتګ صرف تر یوه ټاکلی وخته ځنډولی دی.

يَوۡمَ يَأۡتِ لَا تَكَلَّمُ نَفۡسٌ إِلَّا بِإِذۡنِهِۦۚ فَمِنۡهُمۡ شَقِيّٞ وَسَعِيدٞ ﴿١٠٥﴾

هغه ورځ چې د (الله تعالی )له اجازې نه غیر به هیڅوک د خبرو حق نه لری . خلک به ځینې بدمرغه او ځینې نور به نیکمرغه وی.

فَأَمَّا ٱلَّذِينَ شَقُواْ فَفِي ٱلنَّارِ لَهُمۡ فِيهَا زَفِيرٞ وَشَهِيقٌ ﴿١٠٦﴾

بد مرغه کسان( چې په روږغ لاس یې ځانونه بد مرغه کړی) د اور استوګن دی،( هغه اور چې) د دوی د زړه بوږنوونکو چیغو،سورو او سوو ساندو ازانګې به ترې راپورته وی.

خَٰلِدِينَ فِيهَا مَا دَامَتِ ٱلسَّمَٰوَٰتُ وَٱلۡأَرۡضُ إِلَّا مَا شَآءَ رَبُّكَۚ إِنَّ رَبَّكَ فَعَّالٞ لِّمَا يُرِيدُ ﴿١٠٧﴾

تل تر تله به په همدغه اور کې پراته وی ترهغه چې( د آخرت) آسمانونه او ځمکه پخپل حال وی او یا د الله تعالی اراده او مشیت بل څه وی.بیشکه چې ستا رب د ټولو چارو با صلاحیته واکدار، او د هرې فیصلې او تصمیم حق او صلاحیت هم یوازې له هغه سره دی.

۞ وَأَمَّا ٱلَّذِينَ سُعِدُواْ فَفِي ٱلۡجَنَّةِ خَٰلِدِينَ فِيهَا مَا دَامَتِ ٱلسَّمَٰوَٰتُ
وَٱلۡأَرۡضُ إِلَّا مَا شَآءَ رَبُّكَۖ عَطَآءً غَيۡرَ مَجۡذُوذٖ ١٠٨

خو نیکمرغه کسان به ( چې د الله تعالی په توفیق او مهربانې یې هوسایی او نیکمرغی په برخه شوې) تل تر تله د جنت استوګن وی، تر هغه چې( د آخرت ) آسمانونه او ځمکه پخپل حال وی او یا ستا د رب اقتضا بل څه وی.( د جنت اخروی نیکمرغی دایمی او) بیرته نه اخستونکی الهی نعمت او بخشش دی.

فَلَا تَكُ فِي مِرۡيَةٖ مِّمَّا يَعۡبُدُ هَٰٓؤُلَآءِۚ مَا يَعۡبُدُونَ إِلَّا كَمَا يَعۡبُدُ
ءَابَآؤُهُم مِّن قَبۡلُۚ وَإِنَّا لَمُوَفُّوهُمۡ نَصِيبَهُمۡ غَيۡرَ مَنقُوصٖ ١٠٩

نو د هغو خدایانو په بطلان کې چې مشرکان یې عبادت کوی، شک مه کوه. دوی یوازې د هغو شیانو عبادت کوی چې لا پخوا یې ورته  پلرونه نیکونه( د جهل او ناپوهۍ له مخې) په سجدو پراته وو، او مونږ به یې د( عذاب) برخه پوره پوره او بې له کمی کاستی ورکړو.

وَلَقَدۡ ءَاتَيۡنَا مُوسَى ٱلۡكِتَٰبَ فَٱخۡتُلِفَ فِيهِۚ وَلَوۡلَا كَلِمَةٞ سَبَقَتۡ
مِن رَّبِّكَ لَقُضِيَ بَيۡنَهُمۡۚ وَإِنَّهُمۡ لَفِي شَكّٖ مِّنۡهُ مُرِيبٖ ١١٠

او موسی ته مو کتاب ( تورات) ورکړ خو( د پیروانو ترمنځ یې پکې د خپلې  خپلې خوښې په تفسیر او تأویل ) اختلافات پیل شول او که ستا د رب دا پخوانۍ فیصله موجود نه وی( چې د کافرانو مجازات به  د اتمام حجت لپاره تر قیامته ځنډیږی)  نو د دوی ترمنځ به( د عذاب په نزول سره) فیصله شوی وی. او  دغه اوسنی (یهودیان، عیسویان او ټول کافران لا اوس هم د قیامت د حساب کتاب او قرآن ) په باب د شک او بد ګومانی په کندو سر دی.

وَإِنَّ كُلّٗا لَّمَّا لَيُوَفِّيَنَّهُمۡ رَبُّكَ أَعۡمَٰلَهُمۡۚ إِنَّهُۥ بِمَا يَعۡمَلُونَ خَبِيرٞ ١١١

او ستا رب به( د قیامت په ورځ خلکو ته) د دوی د ټولو اعمالو( سزا او جزا) پوره پوره ورکړی، بیشکه چې الله تعالی یې په ټولو کړو وړو ډیر ښه خبر دی.

فَٱسْتَقِمْ كَمَآ أُمِرْتَ وَمَن تَابَ مَعَكَ وَلَا تَطْغَوْا۟ ۚ إِنَّهُۥ بِمَا تَعْمَلُونَ
بَصِيرٌ ﴿١١٢﴾

**نو ای پیغمبره! ( د مشرکینو په مخالفتونو او دعواو کې ځان مه ښکیلوه) او لکه څنګه چې( الهی) حکم درته کیږی (د خپل رسالت په چارو کې) ثابت قدم اوسه او ستا هغو توبه کوونکو ملګرو ته چې( له شرک او کفره یې توبه ویستلې او الله تعالی ته یې رجوع کړې، هم امر دی چې د اسلامی دعوت په چارو کې) مستقیم او ثابت قدم ودریږئ او سرکشی مه کوئ ځکه الله تعالی ستاسو ټول اعمال ډیر ښه وینی.**

وَلَا تَرْكَنُوٓا۟ إِلَى ٱلَّذِينَ ظَلَمُوا۟ فَتَمَسَّكُمُ ٱلنَّارُ وَمَا لَكُم مِّن دُونِ
ٱللَّهِ مِنْ أَوْلِيَآءَ ثُمَّ لَا تُنصَرُونَ ﴿١١٣﴾

**او د هغو ظالمانو په لور تمایل مه ساتئ چې( له الهی آیتونو، پیغمبر او مؤمنانو سره یې) ظلم کړی، که نه ( د دوزخ) اور به مو راښکیل کړی او بیا به داسې کوم دوست او سرپرست و نه مومئ چې د الله تعالی( له عذابه مو) وژغوری او نه به درسره کومه مرسته وشی.**

وَأَقِمِ ٱلصَّلَوٰةَ طَرَفَىِ ٱلنَّهَارِ وَزُلَفًا مِّنَ ٱلَّيْلِ ۚ إِنَّ ٱلْحَسَنَـٰتِ يُذْهِبْنَ
ٱلسَّيِّـَٔاتِ ۚ ذَٰلِكَ ذِكْرَىٰ لِلذَّٰكِرِينَ ﴿١١٤﴾

**او د ورځې په دواړو اړخونو او د شپې په اوږدو کې لمونځ کوه، بې له شکه چې نیکئ، بدی( او ګناهونه) له منځه وړی. دا خبره د پند او عبرت اخستونکو لپاره ښه درس دی.**

وَٱصْبِرْ فَإِنَّ ٱللَّهَ لَا يُضِيعُ أَجْرَ ٱلْمُحْسِنِينَ ﴿١١٥﴾

**او صبر کوه، ځکه الله تعالی د صبرکوونکو اجر، نه ضایع کوی.**

فَلَوْلَا كَانَ مِنَ ٱلْقُرُونِ مِن قَبْلِكُمْ أُو۟لُوا۟ بَقِيَّةٍ يَنْهَوْنَ عَنِ ٱلْفَسَادِ
فِى ٱلْأَرْضِ إِلَّا قَلِيلًا مِّمَّنْ أَنجَيْنَا مِنْهُمْ ۗ وَٱتَّبَعَ ٱلَّذِينَ ظَلَمُوا۟
مَآ أُتْرِفُوا۟ فِيهِ وَكَانُوا۟ مُجْرِمِينَ ﴿١١٦﴾

نو ولې ستاسو نه په تیرو شویو امتونو کې داسې زړه سوانده مصلحین نه وو، چې په ځمکه کی یې د فساد مخه نیولی وی، او که وو هم، خو د ګوتو په شمیر څو کسان وو( چې دغه ستره وجیبه یې سرته رسوله) او مونږ هم ورته (له عذابه) نجات ورکړ، او نورو، د ظلم لاره خپله کړه او په دنیوی عیش عشرت کې د سرکشۍ او بغاوت حد ته ورسیدل، ربښتیا هم چې دوی مجرمان وو.

وَمَا كَانَ رَبُّكَ لِيُهْلِكَ ٱلْقُرَىٰ بِظُلْمٍ وَأَهْلُهَا مُصْلِحُونَ ﴿١١٧﴾

او ستا د رب اراده او قانون هیڅکله دا نه دی چې د نیک عمله او صالحو خلکو د اوسیدو ښارونه( او سیمې) په ناحقه تباه کړی.

وَلَوْ شَآءَ رَبُّكَ لَجَعَلَ ٱلنَّاسَ أُمَّةً وَٰحِدَةً ۖ وَلَا يَزَالُونَ مُخْتَلِفِينَ ﴿١١٨﴾

که ستا رب اراده کړی وی نو ټول خلک به یې ( په زور او جبر) د واحد ملت په حیث (د هدایت په لاره روان کړی وو، خو دغه کار یې ونه کړ او له همدې امله خلک د دین په چارو کې) په مختلفو نظریاتو( او ډلو) وویشل شول.

إِلَّا مَن رَّحِمَ رَبُّكَ ۚ وَلِذَٰلِكَ خَلَقَهُمْ ۗ وَتَمَّتْ كَلِمَةُ رَبِّكَ لَأَمْلَأَنَّ جَهَنَّمَ مِنَ ٱلْجِنَّةِ وَٱلنَّاسِ أَجْمَعِينَ ﴿١١٩﴾

خو هغه خلک چې ( د حق منلو له امله ورباندې) ستا رب رحم کړې او د همدغه حق منلو لپاره یې پیدا کړی( له اختلافاتو نه مستثنی او ژغورل شوی دی). او ستا د رب قاطعانه فیصله دا ده چې دوزخ به له ټولو( هغو) جنیاتو او انسانانو څخه ډکوی( چې د کفر او عناد لاره یې نیولې ده).

وَكُلًّا نَّقُصُّ عَلَيْكَ مِنْ أَنۢبَآءِ ٱلرُّسُلِ مَا نُثَبِّتُ بِهِۦ فُؤَادَكَ ۚ وَجَآءَكَ فِى هَٰذِهِ ٱلْحَقُّ وَمَوْعِظَةٌ وَذِكْرَىٰ لِلْمُؤْمِنِينَ ﴿١٢٠﴾

او( ای محمده! ) د پیغمبرانو د ژوند( هره عبرتناکه واقعه) چې مونږ تاته بیانوو،( غواړو) ستا زړه وربانده ثابت او پیاوړی کړو. په دغو داستانونو کې ستا لپاره حقایق او د مؤمنانو لپاره د پند او عبرت درسونه پراته دی.

وَقُل لِّلَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ ٱعْمَلُوا۟ عَلَىٰ مَكَانَتِكُمْ إِنَّا عَٰمِلُونَ ﴿١٢١﴾

او هغو خلکو ته چې ایمان نه راوړی ووایه: تاسو تر خپله وسه پخپل دریځ ټینګ ودریږئ او مونږ به هم( خپلو الهی وظایفو ته) دوام ورکړو.

وَٱنتَظِرُوٓاْ إِنَّا مُنتَظِرُونَ ﴿١٢٢﴾

او تاسو( د خپلو ناوړو اعمالو سزا ته) انتظار وکړئ او مونږ هم درته( د عذاب لپاره) منتظر یو.

وَلِلَّهِ غَيۡبُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَإِلَيۡهِ يُرۡجَعُ ٱلۡأَمۡرُ كُلُّهُۥ فَٱعۡبُدۡهُ وَتَوَكَّلۡ عَلَيۡهِۚ وَمَا رَبُّكَ بِغَٰفِلٍ عَمَّا تَعۡمَلُونَ ﴿١٢٣﴾

د آسمانونو او ځمکي پټ رازونه یوازې د الله تعالی تر علمی تسلط لاندی دی. ټولې چارې بیرته د هغه حضور ته ورګرځی، نو( ای انسانه) د الله تعالی بندګی وکړه، په هغه توکل وکړه( او باور ساتئ) چې الله تعالی ستاسو له کړنو بې خبره نه دی.

========================
رزقنا الله سبحانه وتعالی الاستقامة علی دینه وسنة نبیه صلی الله تعالی علیه وعلی آله الکرام و اصحابه العظام.
تمت سورة «هود».